

۱۰، شکل د ځمکې انتقالي حرکت

د سرطان کرښه:

د شمالي $\frac{1}{2}$ ۲۳ درجو عرض البلد ته د سرطان کرښه وایي او دا ځکه چې د سرطان په لوړې نیته د لمر ورانګې $\frac{1}{2}$ ۲۳ درجو پرعرض البلد باندې

پرعمودي ډول راوړي .

دجدي کرښه :

دجنوبي ½ ۲۳ درجو عرض البلد تر دجدي کرښه وايي ، ځکه چې دجدي پر لومړۍ نېټه دلمر وړانګې پرجنوبي ½ ۲۳ درجو عرض البلد باندې پرعمودي ډول راوړي .

دشمالي قطب دايره :

دشمالي ½ ۶۶ درجو عرض البلد تر دشمالي قطب دايره وايي ، کله چې دلمر وړانګې دجدي پر کرښې باندې پرعمودي ډول لوېږي نو له دې عرض البلد

څخه د مماس په ډول تېرېږي .

د جنوبي قطب دايره :

د جنوبي $66\frac{1}{2}$ درجو عرض البلد ته د جنوبي قطب دايره وايي ، کله چې د لمر وړانګې د سرطان پر کرښه باندې په عمودي ډول ولوېږي نو لدې کرښې څخه د مماس په ډول تېرېږي .

په عمومي ډول دغه پرېکړه کرښې يعني د استوا ، سرطان ، جدي او قطبونو کرښې د ځمکې پر مخ د اقليمي سيمو د تاکنې په هکله ډېرې اهميت لري .

(۲) شکل





٢٠ ش،

عرض البلد:

هغه دایرې دي چې د استوا دکرښې سره موازي خیټې اولویدیځ لورته کښل شوي دي، د عرض البلد ونومبد أ د استوا کرښه ده د عرض البلد ونوشمېر (١٨٠) دي چې ٩٠، دایرې یې د استوا شمال او ٩٠، دایرې یې د استوا جنوب خوا ته موقعیت لري.

طول البلد:

هغه فرضي کربنې دي چې د شمالي قطب څخه
شروع او دا ستواء له کربنې نه په عمودي
ډول تېريږي، او جنوبي قطب ته رسېږي.
دد ې دا هر و مبداء هغه طول البلد دی چې دلندن
ډګرينويچ څخه تېريږي. د طول البلد و نو شمېر د
ځمکې پر مخ ۳۶۰ دا هري دي.
د طول البلد او عرض البلد د دا هرو په مرسته د
ځا پو نو موقعيتونه په بنه توګه معلومولای شو
برسېره پردې دوختونو اختلاف د طول البلد
د دايرو په مرسته موندل کېدا ی شی.



(۳) شکل



د عرض البلد دایرې

شمسي نظام

لمر د شمسي نظام مرکز دی چې نور ټول سیارات
اوسپوږمۍ د هغه پر شا وخوا چورلی.
سر بېره پردې کره پر داسې هوه شپېرکې چې
آسمان صاف وي فضا ته وګورو زیات
شمېر ځلاندې ستوري ښه وویني، دغه کوچني
ستوري چې لږ ځمکې څخه د هغوی د زیاتې فاصلې
له امله د پرکوچني ښکاري. په اصل کې د نورو
جلا منظومو مرکزونه دي د دې ټول زیات شمېر
ته کهکشان وایي. هغه سیارات چې د لمر پر شا
وخوا چورلېږي ۹، دي. چې البته د شکل اولویوالي

لږلوړه سره تفاوت لري . تر پلوتو لوړه سیاره
مشتري او کوچنۍ یې عطارد ده .
دغه سیارات دستور وپه خلاف پخپله نور
اورنانده لري او رنالړ لمر څخه اخلي .



۴۰ شکل شمسي منظومه

ځینې ددغو سیارانو سپوږمۍ هم لري لکه ځمکه چې یوه سپوږمۍ لري او یا مشتري چې دولس سپوږمۍ لري، خو ځینې نورې لکه عطارد زهره او پلوتو سپوږمۍ نه لري.

د شمسي نظام سیارې لکه عطارد، زهره، ځمکه مریخ، مشتري، زحل، اورانوس، نیپتون او پلوتو څخه عبارت دي، چې په هغوکې لمر ته نږدې سیاره عطارد او ډیره لرې پلوتو ده.

سپوږمۍ:

سپوږمۍ له ځمکې څخه ۳۸۱، ۰۰۰ کلومتره ده چې په هره قمري میاشت یا ۲۹ ½ ورځو کې یو ځل د

ځمکې په شاوخوا کړۍ. څرنګه چې ځمکه او سپوږمۍ
دواړه لږ لږ څخه رانا اخلي ځکه نو سپوږمی دځمکې په



(۵ شکل)

نسبت د راز راز موقعیتونو لرمخې کله د هلال او
کله د بدر شکل غوره کوي. هغه وخت چې ځمکه

اودغشود سخت باران سره يې اسلامي لښکروته
زيات زيان ورسـاوه ، مګر مسلمانانو خپل همت
لدلاسه ورنکړ او محاصره يې کلکه وساتله . د
ښار اوسيدونکي په تنګ شول اودجزيې په
منلوس يې صلحه وکړه . د سمر قند ښځه ورو سته
اسلامي لښکر ترمذ ته ورسيدل . دهغه ځای -
خلکو چې د مسلمانانو د توري اوهمت قصې اوريدلې
وې ، مقابله خوښه نکړه اوصلحه يې وکړه .

دمعاويه رضي الله عنه سيرت ، سياست او کارنامي

تاريخ پوهانو د معاويه رضي الله عنه لاندينو فعالو ته

سپوږمۍ اولمړۍ پوه کړښه کښې راشي داسې
چې سپوږمۍ دلمړۍ وځمکې ترمنځ وي دځمکې څخه
دسپوږمۍ رڼښانه مخ نشولیدای اودا
هغه وخت دی چې مباشت دراختو اولوبدو
پرحال کښې وي. کړ سبا بیا سپوږمۍ دانتقالي
حرکت پرترڅ کې خپل ځای بدل کړ نود سپوږمۍ
پوه ډېره لږه برخه رڼښانه لېدل کېږي پر
دغه وخت کښې سپوږمۍ دهلال پرشکل وینو
کرچیرې ځمکه دلمړۍ وسپوږمۍ ترمنځ واقع شي
پردغه وخت کښې دسپوږمۍ ټوله ساحه —
رڼښانه بنکاري چې دغه حالت تدبدوایي.
داهم باید ووایو چې سپوږمۍ هوانلري اوځمکه

چې انتقالي او وضعي حرکتونه په یوه موده کې سرته
رسیږي ځکه نو مونږ تل دهغې یوه خوا لیدلای
شو.

سپوږمۍ نیول

کله چې دهغود انتقالي حرکت پر تړخ کې ځمکه د
سپوږمۍ او لمر ترمنځ واقع شي نو دځمکې سیوری
د سپوږمۍ پر مخ لویږي او سپوږمۍ نیول کیږي
یا په بل عبارت دځمکې د سیوري په برخه کې خلک
سپوږمۍ لیدلای نشي خسوف تل دمیاشتې
په ۱۳ - ۱۴ - ۱۵ کښې واقع کیږي.

لمر نیول (کسوف)

کله چې سپوږمۍ د ځمکې او لمر ترمنځ پر یوه مستقیم کرښه باندې واقع شي د سپوږمۍ سپوري د ځمکې پر مخ لوېږي، دې حالت ته کسوف یا د لمر نیول وایي.

ځکه د هماغې سیمې خلک چې د سپوږمۍ تر سپوري لاندې دي لمر لیدلای نشي.



د سپوږمۍ شکلونه

(۶ شکل)

تمرین

۱- جغرافیه تعریف کړی ؟

۲- یو کال څومیاشتې دي ؟

۳- دځمکې مدار رسم کړی ؟

۴- دا ستوا کرښه دځمکې پرمخ رسم کړی ؟

۵- د $23\frac{1}{2}$ درجو عرض البلد څه بولي ، شکل یې
دهوې دایرې پرمخ وکاږی ؟

۶- دطول البلد دایرې په یوه بنکل کښې وښیئ ؟

۷- دطول البلد مبدأ له کوم ځای څخه تیریږي ؟

۸- دلمر سیارې معرفي کړی ؟

۹- دلمرنۍ دپرهٔ لرې سیارهٔ کومه ده ؟

ABIC
B
6.421
TJA
VE7 4.2

دریمه طبع
دچاپ کال سنبله ۱۳۶۸ دچاپ شمیر (۲۰۰۰۰)
دتعلیمی مرکز دنصاب مدیریت

۱۰ـ خسوف څرشی دی ؟

۱۱ـ بدر څه وخت پیښیږي ؟

۱۲ـ لمر نیول د میاشتې په کوم وخت کې پیښیږي ؟

۱۳ـ سپوږمی څه وخت نیولد کیږي ؟

د انتقاد ګوتې نیولې دې:

۱ــ د حضرت علي کرم‌الله‌وجهه په مقابل کښې جنګ او د مسلمانانو په منځ کښې بې اتفاقي پیدا کول.

۲ــ د یزید لپاره بیعت اخیستل «خلافت په میراثي پاچهي بدلول».

۳ــ په بیت المال باندې قبضه کول او هغه پخپلر خوښه هرچا ته بخښل.

په دې برخه کښې د حضرت عقیل رضي‌الله‌عنه مثال په ټولو ناریخونو کښې لیدل کیږي.

یوه ورځ حضرت عقیل بن ابي طالب رضي‌الله‌عنه د حضرت علي رضي‌الله‌عنه نه راغی او ورته یې وویل چې پدې ورځو کښې نه پیرتنګ لاسي شوی یم یوځه راکړه؟

حضرت علی «رض» ورته وویل: چې کله مونږ رو
خلکو ته ورکول تاته بد ښه هم درکړم، لیکن حضرت
عقیل «رض» ډیر ټینګار وکړ. بیا حضرت علی «رض»
یوه سړي ته وویل چې: دی له لاسه ونیسه او
بازار ته یې یوسه او ورته ووایه چې د دوکانونو
قفلونه مات کړه او دهغو څخه مال ونه واخله.
حضرت عقیل «رض» ووېل چې ته غواړې ما پر
غلا کښې ونیسې، حضرت علي «رض» پر ځواب
کښې ووېل: آیا ته غواړې چې له ما څخه غل
جوړ کړې؟ د مسلمانانو له بیت المال څخه مال —
وباسم او تاته یې درکړم بیا حضرت عقیل «رض»
ووېل: چې زه به نو معاویه رضی الله عنه ته لاړشم

حضرت علی، رض ، ورته وفرمایل ، چې دا ستا
اختیار دی، کله چې معاویه، رض ، ته لاړ ، هغه
ورته یولک درهم ورکړل .
یوځل عبدالله بن زبیر، رض ، ته معاویه رض ،
وویل چې دا درې شعرونه مکمل کړه . هغه
ورته وویل چې که دا شعرونه می مکمل کړل نو
درې لکه درهمه به درشخه اخلم .
امیر معاویه ، رض ، ورته وویل چې صحیح ده ،
اوهمداسې یې هم وکړل . د معاویه، رض ، پرشل
کلنه دوره کښې ډیرزیات فتوحات وشول ،
چې په دې برخه کښې په تفصیل سره بحث
شوی دی .

معاویه رض ډیر با حوصله او ښه سلوک
خاوند وو ، هغه خپل مخالفین په انعام ورکولو
باندې خوشحالول . ده د خلکو د شوندو اړ امولو
په برخه کښې ډیر کار وکړ ، د ځمکې د څښولو
لپاره یې نهرونه او ډنډونه جوړ کړل .
د پوستې لرپاره یې منظم ترتیبات ونیول . لنده
داچې امیر معاویه رض د ۶۰ هـ کال په -
جمادي الثاني کښې مریض شو او د همدې کال
د رجب د میاشتې په لومړۍ ورځ وفات شو . نو
کرچیرې معاویه رض ، تر دیوپاچا په توګه
وګورو نو څرګنده به ځکه چې د هغه په دوره کښې
نواقص نسبت ښو کارونو ته لږ وه ، سربیره

یردې دده د نړۍ څخه د اسې کارونو شول.
چې اسلامي زړین تاریخ یې لکه دا رکړ.

یزید بن معاویه رضی الله عنه

یزید بن معاویه رضی الله عنه د خپل پلار له وفات څخه
وروسته پاچا شو. یزید په ډیر ظالم، مغرور او
ناپوه سړی وو، سمدستي یې د مدینې والي ولید
بن عتبه ته امر وکړ چې د مدینې له ټولو خلکو څخه
ورته بیعت واخلي. دهغه وخت اسلامي مشران
د امام حسین رضی الله عنه په کډون ټول له مدینې
څخه مکې ته ولاړل. د کوفې خلک حاضر نه شول
چې یزید ته بیعت وکړي، ځکه نو له امام حسین رضی الله عنه

څخه پې غوښتنه وکړه چې کوفې ته لاړ شي او د
دوی بیعت ومني .
امام حسین ، رض ، مسلم بن عقیل دخپل ټره ځوی
واستوه چې هلته له نږدې څخه وضع وګوري
کله چې هغه کوفې ته ورسید نو ، ۱۲۰۰۰ ، یا ۱۸۰۰۰ ،
کسانو د امام حسین ، رض ، په لوم مسلم ته بیعت
وکړ .
حضرت امام حسین ، رض ، له خپلو خپلوانو سره
مشوره وکړه ، هغوی کوفه وال پې اعتبار وبلل او
حضرت امام حسین ، رض ، پې هغه ځای ته له تللو
څخه منع کړ . پدې وخت کښې د کوفې حاکم نعمان
بن بشیر وو . د پې یوصلح غوښتونکی سړی وو ،

اوځکه نو مسلم تدبي وویل چې د فتنې او فساد کومبښ
ونکړي . مسلم امام حسین ، رض ، ته لیک ولیږه چې
څه ترڅه ځان کوفې ته راورسوي ، د یزید جاسوسانو
د اخبره یزید ته ورسوله چې کرچیرې د نعمان بن
بشیر پرځای بل حاکم مقرر نه شي نو دکوفې حالات
به خراب شي . یزید سمدستي د نعمان پرځای -
عبدالله بن زیاد دکوفې والي مقرر کړه او د احکم پې
ورته ورکړه چې مسلم بن عقیل له کوفې څخه وباسي
اویا پې ووژني ، ابن زیاد کوفې ته ورسید او اعلان
پې وکړ چې « زه د مطیع او فرمانبردار خلکو سره
د شفقت او مهربانې معامله کوم ، اما د فتنه اچوونکو
سره د تشدّد څخه ګار اخلم » .

دهرکلي مشر تدې حکم وکړ چې دخپلې سيمې دامن
وامان پورې خيال وساتي که کوم شخص باندې
مشکوک اويا مشتبه وي نوهغه دې ونيسي اوده
تر دې تسليم کړي .
دهمدغه حکم پر اساس ووچې مسلم د محمد بن
اشعث په واسطه وينول شو اوابن زياد تر تسليم
کړای شو .
مسلم د محمد بن اشعث څخه داغوښتنه وکړه چې
داتول حالات امام حسين رض ، تر بيان کړي
اوهغه تر ووايي چې دکوفې خلک هيڅکله داعتماد
وړ خلک نه دي لکه څنګه چې دوی له ده سره
دوکه اوچل وکړ ، په همدې ډول به له

امام حسین ، رض ، سره هم بیوفایي وکړي .
د مسلم سره ، ۱۲۰۰۰ ، کسانو بیعت کړی وو مګر
د مشکلاتو په وخت کښي ورسره نږدې ۳۰ ،
کسان پاتې شول . نورو ټولو د حکومت سره
لاس یوکړ او دی یې ابن زیاد ته وسپارهٔ او
په شهادت یې ورساوه .
امام حسین ، رض ، د ۶۰ ، هـ کال د ذی الحجې په
دریمه لږ خپل فامیل سره کوفې ته روان شو او
د مسلم بن عقیل ، رض ، د شهادت خبر په لاره
کښې خبر شو ، ورو ورو د امام حسین ، رض ،
د ملګرو شمیر کمیده کوم وخت چې د کوفې سیمې
ته ورسیدل ټول ملګري یې ۷۲ ، تنه وو .

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

لومړی فصل

معاویه بن ابی سفیان رض د اموی دولت مؤسس

۴۱ھ - ۵۹ھ

د امویانو د خلافت قیام: بنی امیه او بنی هاشمو د قریشو تر نورو قبیلو فوقیت درلود، خلکو بنی هاشمو ته د کعبې شریفې د سرپرستۍ په وجه د عزت او احترام په نظر کتل، او بنی اُمیه د ثروت، جاه او جلال له نظره په خلکو کې

عبدالله بن زیاد رض عمرو بن سعد بن ابي
وقاص لږ ۴۰۰۰ عسکر وسره مأمور کړ ترڅو امام
حسین رض پرې نږدې چې کوفې ته راشي.
دکربلا پر شاوخوا کښې حر بن یزید تمیمي چې عمرو
بن سعد بن ابي وقاص رض یې د لښکر مشر وو
لږ حضرت امام حسین رض سره خبرې وکړې او
ورته یې وویل چې لږ خپل دغه منت ته واوسې
او خپل ځوند پرخطر کښې واچوي. امام حسین رض
پدې هکله درې شرطونه ورته اندې کړل،
۱ــ هغه ته دې اجازه ورکړې چې بیرته مکې
ته ستون شي،
۲ــ هغه ته دې اجازه ورکړل شي ترڅود ـ

اسلامي هيواد وپه سرحدونو کښې لږ کفار او
سره پرغزا کښې شهيد شي .
۳ - هغه دې پريښودل شي ترڅو مستقيماً يزيد
تر وړ شي او لږ هغه سره د خو مهمو خبرو د
حل کولو څخه وروسته هغه ته بيعت وکړي ، خو
هغوی د امام حسين ، رض ، يوه خبره او يو شرط هم
ونه مانه ، بلکه غوښتنه يې کوله چې امام بايد يزيد
ته په هماغه ځای کښې بيعت وکړي .
کله چې امام حسين ، رض ، د هغوی د غه شرط
ونه مانه نو د کربلا ناوړه واقعه رامنځ ته شوه
د امام حسين ، رض ، ملګري چې شمير يې ۷۲ ،
ټوله ته رسيده په پوره ايمانداری او ميړانه يې

خانونه د اسلام او حق په لاره او د ظلم او تیری پر
ضد قربان کړل چې د اسلام په تاریخ کښې
د سرښندنې نوښانه مثالونه دي.
د امام حسین رض، او د هغه د ملګرو د شهادت
آوازې د اسلامي هیوا دو په کوټ کوټ کښې -
د اسې ناوړه اغیزه وکړه چې د ټولو سره ونه یې
ولړزول. د یزید پر خلاف لږ هرې خوا آواز ونه
اوچت شول.
د مدینې خلک دیرید په دغه کار سخت سره بدي
شول او د هغه والي یې لرمدینې څخه وشاړه
خو عسکر ویې د هغه ځای په خلکو حمله وکړه او
زیات شمیر صحابه یې شهیدان کړل اوهم یې

د مدینې ښار لوټ کړ.
دغه شان د شام لښکر په مکه مکرمه برید وکړ
اوهغه ښار یې کلابند کړ. د مکې خلک لاڅه
چې کعبر یې هم په ډبرو وویشتلر.
خلکو په مکر کښې دیوې ډیرې بدې پیښې انتظار
ایستلوچې یزید پر ۶۴ هـ، کال کښې مړشو.

معاویه ثانی:

یزید د وفات څخه وروسته شامیانو د ده -
ځوان زوی معاویه پر تخت کښینولو. هغه
ډیر نیک او دیندار سړی وو. د خلافت

څخه یې دلاس اخیستلو فیصله وکړه او مسلمانان
یې مخاطب کړل او ویې ویل: "تاسې زه خپل
خلیفه وتاکلم مګر زه ددې باړ د پورته کولو طاقت
نه لرم ما غوښتل چې د ابوبکر صدیق رض، په طریقه
خپل جانشین نامزد کړم یا د فاروق اعظم رض، په
طریقه د شپږو کسانو کمیټ جوړ کړم ترڅو په
خپلو منځو کښې د مشورو په اساس یوتن خلیفه
وتاکي لیکن نه د حضرت عمرؓ په شان څوک په
نظر راځي او نه دا ډګر شپږ کسان پیدا کېږي -
ځکه نو تاسې چې څرنګه غواړئ خانته خلیفه وتاکئ
زه ددې منصب نه لاس اخیستونکی یم"
ابن زیاد د بصرې خلک ټول کړل او غوښتل یې

چې خپل ځان خليفه وټاکي ، د بصرې خلکو ټنډه
بيعت وکړ ، بيا يې د کوفې خلکو ته مراجعه وکړه
مګر هغوی انکار وکړ ځکه نو ابن زياد شام ته وتښتيد
د کوفې او بصرې خلکو په خپل سر ځانته والي مقرر
کړ ، او د عبدالله بن زبير رض . خلافت يې تسليم کړ
او مصريانو هم د هغه پرلاس بيعت وکړ . پدې —
وخت کښې يوائې شام دا سې ولايت پاتې شو چې
د هغه خلافت يې تسليم نه کړ .

تمرین

۱ــ امیر معاویه د کومې کورنۍ څخه وو؟

۲ــ د کوم خلیفه په وخت کښې امیر معاویه د شام والي وو؟

۳ــ د امیر معاویه په وخت کښې کوم ځایونه د مسلمانانو د لاس لاندې وو.

۴ــ د امیر معاویه سیرت او کارنامې په لنډه توګه بیان کړئ؟

۵ــ یزید څوک وو؟

۶ــ یزید څنګه په قدرت ورسیده د هغه شخصیت په باره کښې لنډ معلومات ورکړئ؟

۷ــ د امام حسین رض. او یزید ترمنځ په کوم ځای کښې جنګ پیښ شو؟

۸ــ د امام حسین رض. شهادت په کومو حالاتو کښې واقع شو؟

۹ـ دوهم معاویه ولې د خلافت څخه لاس واخیست
اوپه دې باره کښې یې څومره خطبه بیان کړه ؟

دوهم فصل

د اُمويانو دوهم دور

عبدالله بن زبير رض

(٦٤ — ٧٣ هـ)

عبدالله بن زبير «رض» مشهور صحابي وو کله چې يزيد مړ شو د مکې معظمې محاصره د حصين بن نمير د عبدالله بن زبير رض پر حضور کښې — حاضر شو او ورته يې وويل :

زه له تا سره بيعت کولو ته تيار يم ليکن بنديز داوي چې ته له ما سره شام ته ولاړشې ترڅو د شام خلک پر متفق دول بيعت وکړي پر

دې شرط چې ټولو ته عفو اعلان کړې ترڅو
هغو خلکو ته چې له تا سره جنګیدلې ، دا ډاډ حاصل
شي لیکن عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ
وویل : زما دې پر خدای جَلَّ جَلَالُهُ سره قسم
وي چې زه به د هغه یوه ځانګړی په بدل کښې
لس شامیان ووژنم . د دې څخه وروسته —
حصین بن نمیر فوځ له ځان سره واخیست
او شام ته ولاړ
د عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یوه بله اشتباه
دا وه چې : مروان بن حکم د مدینې حاکم له
ده سره بیعت کولو ته تیار وو لیکن د ابن زبیر
د جذباتو له کبله هغه ټول امویان چې په مدینه

شهرت درلود.

ابوسفیان د قریشو سردار اود اسلام په دښمنۍ کښې ټولو مشهور وو مګر د مکې د فتحې په وخت کښې د حضرت عباس رض په وسیله اسلام قبول او ځان وساتر. سربیره پردې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اعلان وکړ چې د مکې هر اوسیدونکی که په کعبه کښې ننوزي اویا د ابوسفیان رض کور ته پناه یوسي، هغه ته په امان کې وي، اودده ځوی حضرت معاویه رض. ته یې د وحې کاتب وټاکه.

حضرت امیر معاویه رض:

امیر معاویه د امیه د کورنۍ څخه وو چې د -

کښې اوسیدل له مدینې څخه وایستل شول
مروان شام ته ولاړ او هلته خلیفه وتاکل
شو، په دې وخت کښې د حجاز، عراق او
مصر ولایتونه د ابن زبیر «رض» خلافت —
تسلیم کړی وو او شام کښې هم ډډه حامیان
زیات وو کوموچې د مروان خلافت تسلیم
نه کړ. پدې توګه د دوی په منځ کښې جګړه
پیل شوه، د ابن زبیر «رض» طرفدارانو ماته
وخوړه او ټول شام د مروان پرلاس کښې
پریوت.

ددې څخه وروسته شامي لښکر وپه مصر
باندې حمله وکړه او مصر یې هم ونیو. مروان

په ۶۵ هـ کال کښې مړشو اودده ځای عبدالملک پاچا شو.

عبدالملک په عراق باندې د عراقیانو د مخفي اړیکو له کبله حمله وکړه، مصعب بن زبیر «رض» ماته وخوړه او په شهادت ورسید.

عبدالملک خپل مشهور افسر حجاج بن یوسف ترظیفه ورکړه ترڅو په مکه باندې حمله وکړي، هغه مکه محاصره کړه، محاصرې دوام وکړ، د خوراک ذخیرې خلاصې شوې د مکې خلکو د عبدالله بن زبیر «رض» طرفداري پریښوده او حجاج بن یوسف ته تسلیم شول لیکن عبدالله بن زبیر «رض» خپله حوصله له لاسه ورنکړه او ترپایه پورې یې مقاومت وکړ، ترهغې چې

حتی دده دوه زامن هم دهجاج سره یوځای شول
ده چې داحال ولیده نوخپلې مور ته ووېل :
«کوم خلک چې زما سره ملګري وو ، هغوی تګې وکړه
اولاد دبنمن سره یې لاس یوکړ ، تردې پورې چې
زما خپلو دواړو زامنو هم بې وفايي وکړه ، که زه په
دې وخت کښې دد بنمن اطاعت ومنم نو هغوی له
ماسره هر ډول مراعات کولو ته تیار دی پدې شرط
کښې ستا څه رائیده ده ؟ »
حضرت اسماء « رض » ورته وویل : ځویه ! که ستا
یقین وي چې ته په حق یې ، په هیڅ قیمت باندې بنو
اُمیه ته تسلیم نشې اودخپلو دیرو ملګرو په څیر ، ته
هم دحق په لاره کښې ځان قربان کړه ، لیکن که چېرته

یواځې د دنیوي جاه وجلال لپاره جنګیږي، ستاسو ځوند
بربل بدسړی نه وي چې د پیر معصوم او پاک خلک
هلاک کړي او کله تر دې لپاره اطاعت ته تیار نه
چې ستاسو د ملاتړ کولو کمبود دی نو دا د مؤمنانو
طریقه نه ده. لاړ شه او دحق په لاره کښې خپله
وړوسته ثابته کړه وینه توی کړه.

ابن زبیر رض، خپلې مور ته وویل چې: زما په مرګ
باندې هیڅ ماتم او غم ونه کړې. مور یې ورته تسلي
ورکړه او ویې ویل: خویندلاړ شه نه بد د صبر جمیل
ثمر کار واخلم.

عبدالله بن زبیر رض، د محدود وملګرو سره د دښمن
مقابلې ته ورغی او په پای کې یې شهادت ورسید.

دده دخلافت موده ۷۰ کاله وه . دی ډیر نیک خوی
دیندار او متقي انسان وو پر جرأت او حق ویلو کښې
ډیر مشهور وو او هر کار یې د خدای ﷻ د رضا
لپاره او پر آخرت کښې دهغې د بدل اخیستو پر خاطر
کاوه سره له دې چې یو څه جذباتي هم وو .

عبد الملک بن مروان

۶۵ ـ ۸۶ هـ مطابق ۶۸۶ م

د یزید څخه وروسته کوم خلک چې سلطنت ته رسیدلي
وو هغه د معاویه د اولاد و نو څخه نه وو لیکن هغوی
هم د معاویه رض . پرشان پر بنې اُمیّه پورې
تعلق درلود چې د دې کورنۍ مؤسس مروان بن حکم

وو. د مروان د ناڅاپي مرګ څخه وروسته د ده زوی عبدالملک پر تخت کښیناست. په افریقا کښې عقبه بن نافع، د قطبي افریقي فاتح، د قیروان په بنار کښې لږ خپلو عسکو سره د بربرانو د شورشونو په نتیجه کښې په شهادت ورسیدلی وو او وروسته د مسلمانانو واک لږ منځ تللی وو.

د قیامونو لږ منځ ورسل:

د عبدالملک بن مروان په زمانه کښې د اسلام لښکرو یوځل بیا بربرانو او رومیانو ترماتې ورکړه.
تونس او المغرب یې بیا ونیول، خو د لښکر د مشر

زبیر د غفلت په اثر رومیانو زبیر اود هغه لښکر
لرمنځه یوسول او هغه هیواد ونډې د اسلام له
تسلطّ څخه وایستل ، خو د مسلمانانو له خوا د نورو
عسکرو د راورسیدلو څخه وروسته رومیان او
بربریان مغلوب شول، البته د اعسکر د عبد الملک له
لوړې هغه ځای ته استول شوی وو، د دې اقدام
څخه وروسته اسلام په بربرانو کښې خپور شو .
پرخراسان کښې حجاج بن عبد الرحمن بن اشعث
د کابل د فتحې لپاره وتاکه ځکه چې د کابل پادشاه
رتبیل ، د باج له ورکولو څخه غاړه غړولې وه او
اسلامي لښکر وتړې د خپل وطن په سختو درو
کښې د ډانر تلفات اړولي وو.

عبدالرحمن بن اشعث پر دې باندې تېښکار کاوه چې
باید کرار کرار پر مخته وشي او پر هغو سیمو کې
چې دد وی لاس تر وړې باید تر ټولو لومړی نظم او
دسپلین منځ ته راشي لیکن حجاج بن یوسف د
دې خبرې سخت مخالف وو، همدا سبب ووچې
عبدالرحمن د استقلال اعلان وکړ او د حجاج سره
یې پر خوجنګونو کښې بریالیتوب لاس ته راووړ
لیکن پر پای کې یې ماتې وخوړه او د بسټ خوا ته
ولاړه. پر بسټ کښې د عیاض له خوا ونیول شو او
ربتېل ته وسپارل شو. د حجاج د فشار پر اساس
ربتېل غوښتل ترڅو هغه حجاج ته وسپاري مګر ده
پرلاړه کښې خود کشي وکړه.

د عبدالملک حکومت تر یوه کتنه

عبدالملک لومړنۍ اسلامي پاچا دی چې سکه يې په خپل نوم ووهله پخوا تر دې په خلکو کښې د ختیځ روم اوساسانیانو سکې رواج درلود، په همدې وخت کښې عربي ژبې هم په خلکو، دفترونو او رسمي چارو کښې لاړه ومونډله.

د ۷۶ او ۹۶ هـ کلونو په موده کې د اسلام نفوذ ترکاشغر پورې ورسید اوهم د محمد بن قاسم په مشرۍ د اسلام لښکر وپه سند برید وکړ او تر ملتان پورې ورسیدې ولاړل.

په ۸۶ هـ کال کښې عبدالملک بن مروان وفات شو

ولید بن عبدالملک

(۸۶ ـ ۹۶ھ)

دعبدالملک د وفات څخه وروسته ددې ولید پر تخت کښیناست.

دولید زمانه دامن اوامان زمانه وه، داخلي شورشونه ختم اودعراق خلک مطیع شوي وو، له دې وجهې نه ولید خپله توله توجه باندنیوفتوحاتو ته واړوله.

دولید دوخت فتوحات:

دولید په زمانه کښې ترکستان، چین، هسپانیه سند اودا سې نورې سیمې فتحه شوې اواسلامي

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اصحابو څخه وو،
نومورې د دریم خلیفه حضرت عثمان رض،
پر وخت کښې د شام والی وو.
د حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه د شهادت
څخه ورروسته بې د حضرت علي کرم الله وجهه
سره مخالفت وکړ مګر حضرت علی کرم الله وجهه
د معاویه رض، سره صلح وکړه چې د دې صلحې
پر وجه شام، مصر او نورې لویدیزې سیمې
د امیر معاویه رضی الله تعالی عنه د حکومت تر تأثیر
لاندې راغلې، او عراق، ایران او نورې ـ
ختیزې علاقې د حضرت علی رض، سره پاتې شوې.
کله چې امام حسن رض، خلیفه شو نو امیر معاویه رض،

سرحد چین څخه د اروپا تر مرکز پورې پراخ شو.
دا فتحې د نامتو سپه سالار اړو لکه قتیبه بن مسلم، موسی
بن نصیر، طارق بن زیاد، محمد بن قاسم او مسلمه
بن عبدالملک له خوا سرته رسیدې.

ماوراءالنهر:

د عبدالملک پر وخت کښې مهلب د خراسان والي مقرر
شوی وو کله چې هغه وفات شو نو د هغه زوی یزید
د خراسان والي مقرر شو، پر دې وخت کې د خراسان
خلکو شورش وکړ. کله چې عجاج له دې حالاتو څخه خبر
شو یزید یې معزول، او پرځای یې مصري، سردار
قتیبه بن مسلم د خراسان والي مقرر کړ.

قتیبه یو بهادر اوبا تجربه افسر وو، لومړی یې باغي
سردارانو ټکول اوبیا یې په ترکستان باندې حمله
وکړه.
ترکستان تر پرهغه وخت کښې ماوراالنهر ویل کیده
دهغو سیمو سردارانو دده اطاعت ومانه.
کاشان، فرغانه اونور ښارونه یې فتح کړل
دبخارا د محاصرې په وخت کې ووچې د ترکانو اوسغدیانو
یو متحد پوځ دبخارا یانو دکومک لپاره راغی، ځکه نو د
بخارا د ښار محاصره ماته شوه اومسلمانان د دوو
خواوو څخه د بنمن ترضربې لاندې راغلل، په اوله
مرحله کښې یې شکست وخوړ مګر په پای کښې
بریالي شول. دبخارا څخه روسته یې په سمرقند

باندې حمله وکړه ، سغدیانو دحملې توان نه درلود او
ځکه نو مسلمانانو بنار محاصره کړ. د سمرقند خلکو د
شا وخوا شهزادګانو څخه مرسته وغوښته ، کوم وخت
چې قتیبه له دې موضوع څخه خبر شو ، نو خپل وزیر صالح
یې دهغوی د سرکوبۍ لپاره ولیږه .
کله چې سغدیانو د شهزادګانو له لارې څخه خبر شول نو
د صلحې پیشنهاد یې وکړ ، او پدې ډول مسلمانان
بریالي د سمرقند بنار ته ننوتل .

محمد بن قاسم او د سند فتوحات

محمد بن قاسم پر دې وخت کښې ، ۱۷ کلن ځوان وو
او د هغو مسلمانانو د خلاصون لپاره مؤظف شوی وو

کوم چې د قزاقانو له خوا قیدیان شوي وو.

له هغو څخه لومړی حمله په ۶۸۹ - ۷۱۱ م کال د دیبل «اوسنی کراچی خواکښې یوځای وو» پر بندرګاه وشوه. د دیبل خلکو په میدان باندې د جګړې کولو توان نه درلود، ځکه نو کلاته ننوتل او ځانونه یې کلابند کړل. محمد بن قاسم د توپونو په مرسته پر کلا یرغل پیل کړ لیکن د بنار خلکو خپل همت له لاسه ورنکړ او په دیره زړورتیا یې مدافعه کوله، محاصره تر هغې میاشتې پورې جاري وه مګر کومه نتیجه یې ورنکړه، ورو ورو بیا وویل شول چې ترهغه وخته چې د دې خلکو بیړغ ولاړ وي نو دوی به مقاومت کړي، ځکه نو محمد بن قاسم هم حکم ورکړ تر څو بیړغ راوغورځوي، ورو ورو بیا د اخبره ربنتیا

شوه ځکه کوم وخت چې ببرغ ولويد هندوانو ماتې وخوړه
اومسلمانان بنار تر نيوتل .
ددیبل د فتحې څخه وروسته اسلامي لښکري ، دحيدر
آباد خواته متوجه شوی لېکن د هغه ځای خلکو له جګړې
څخه پرته سوله وکړه اودشاوخواسيمو نورو مشرانو هم د
جزيې پر ورکولو اطاعت ترغاړه کښود ه .
پر دې وخت کښې راجه داهر د يو .... ه کسيز لښکر سره
دسنده دریاب غاړې ته ورسيد ، محمد بن قاسم هم د
دریاب بلې غاړې ته ځان ورساوه ده غوښتل چې د کشتيو
پول وترې اودد بنمن مقابلې ته د سيند څخه تېر شي
لېکن د راجه لښکرو يې مخنيوی وکړ ترهغه چې د اسلام
لښکريان مجبور شول ترڅو د شپې پر تياره کښې ددریاب

څخه تېرېشي، په جنګ کې راجه داهر ووژل شو، او دده
د مرګ سره سم دده لښکر وهم ماتې وخوړه او برهمن آباد
تر پرشا ولاړل.

محمد بن قاسم د وې تعقیب کړل او وروسته له پوې
خونړې جګړې څخه یې برهمن آباد هم فتح کړ.

د دې څخه وروسته مسلمانان د «اروړ» خوا ته متوجه
شول، دلته د راجه داهر ځوی «ګوپي» د مسلمانانو د
مقابلې لپاره زیاته تیاري نیولې وه. ګوپي د خپل پلار راجه
داهر مرینه له خلکو څخه پټوله او هغوی ته یې ویل چې:
راجه ژوندی دی او د فوځ د تیارولو لپاره هندوستان
ته تللی دی، خلکو په دې درواغو باور او د ګوپي د
مرستې لپاره یې زیات شمیر لښکر یې برابر کړ چې

وروستو بیا پر اروركښې سره راتولې شوې :
محمد بن قاسم د اسوس بناس کلابند کړ . د بناس خلکو
پر کلکه د بناس مدافعه کوله لیکن د بناس خلکو کوم وخت
چې د راجه داهر د وژل کیدو خبر واورېد د محمد بن
قاسم اطاعت ترغاړه کښنوده .
د اروړ د بناس د نیولو څخه وروسته اسلامي لښکرې د
چناب له درياب څخه تېرې شوې او ملتان ته ورسېدې
د دې ځای راجه هولوی پوځ تیار کړ لیکن د مسلمانانو
سره د مقابلې لپاره يې د مخامخ کیدو څخه ډډه وکړه پر
کلا کښې ننوتل او ځکه نو د محمد بن قاسم له خوا کلابند
شول ، کله چې محمد د دوی د اوبو پرچینې باندې قبضه
وکړه ، دوی مجبور شول چې د مقابلې لپاره له کلا څخه -

را وونړي اوماتې وخوړي .
دملتان له فتحې څخه زيات طلا اوجواهرات دمسلمانانو
لاس ته ورغلل . وروسته بيا محمد بن قاسم د پنجاب
نور وښارونو ته متوجه شو، اوهغه ټول يې ونيول .
تر دې چې دکشمير تر سرحدونو پورې ورسېد لېکن پدې
وخت کښې وليد وفات شو اوپرځای يې سليمان پر
تخت کښېناست . سليمان د قتيبه پر شان محمد بن
قاسم خپل دربار ته وغوښت اوله وړاندې ټک څخه
يې منع کړ .

دمحمّد بن قاسم وژل :

څرنګه چې سليمان دحجاج اودهغه دمتعلقينو شخصي

دښمن ووځکه نو محمد بن قاسم پې د سنده د امارت څخه معزول اودهغه پرځای پې یزید بن ابي کبیشه مقرر کړ. یزید محمد بن قاسم ونیو اوهغه پې دعراق نوي حاکم ترڅې صالح نومیده ولیږه له دې پلوه حجاج د صالح وروڼو وژلی وو، ځکه نو صالح د وروڼو انتقام له محمد بن قاسم څخه ترڅې د حجاج له کورنۍ څخه وو واخیست او هغه پې د پول پ پول عذابونو څخه وروستو پرې شهادت ورساوه.

موسی بن نصیر اوداندلس فتوحات

موسی بن نصیر د ولید بن عبد الملک له خوا د افریقې والي مقرر شو. دده څخه مخکښې حسان د دې منطقې والي وو لیکن کله چې ولید پر تخت کښیناست، حسان پې معزول

اوږ ځای یې موسی بن نصیر مقرر کړ .
دد ې منطقې خلکو دی کمزوری وګاڼه نو شورش یې پیل
کړ لیکن موسی بن نصیر هغوی تر ماتر ورکړه او د
شمالي افریقې ټول رومیان یې له د ې ځای څخه وایستل
ځکه چې په ټولو شورشونو کښې د دوی لاس وو پدی
توګه هغه بربالی شو تر څو په ملک کښې امن او امان
برقرار کړي .
پدی زمانه کښې په اندلس «هسپانیه» کښې د
نوي تمدن هیڅ نخښه او نښانه موجوده نه وه ،
دکرهنې کار وند غلامانو ته سپارل شوي وو او امیران
او سرمایه دار خلک د هر ډول محصول له ورکولو څخه
معاف وو . څرنګه چې د د ې وخت حکومت د عیسویانو

بیا پر عراق باندې حمله وکړه .
څرنګه چې امام حسن رض، یوامن خوښوونکی
اوصلحه غوښتونکی سړی ووا و نړیې غوښتل
چې پر محمّدي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُمّت کښې وینر
توی شي ،ځکه نو د خلافت څخه بې لاس واخیست
اوپه دې ډول امیر معاویه رض، په ٤١ ه کال
کښې د ټول اسلامي هیواد ونو خلیفه شو.
امیر معاویه رض ، خپل زوی یزید خپل ـ
جانشین وټاکه اوحکومت یې د بني اُمیه
کورنۍ مور وثي حق وګانه .

پرلاس کښې وو، نو ځکه د یهودیانو سره یې د پر بد سلوک کاوه ، د دوی د بدسلوکۍ له کبله هسپانوپان شمالي افریقې ترڅ اغلل او د مسلمانانو ترسیورې لاندې یې شوندغوښه کړه .

موسی بن نصیر خپل یوغلام چې ظریف نومیدد ، ۴۰۰۰ ، کسانو پر مشرۍ هسپانیې تر ولیږه څو د حالاتو څخه ځان خبرکړي ، له ډاستنډو وروسته نوموړي د اوضاع او شرایط د پر بنسټ او مناسب وبلل .

د طارق بن زیاد د اخلیدل اندلس تر

موسی خپل مشهور افسر طارق بن زیاد د یو ، ۷۰۰۰ ، کسیز لښکر پر مشرۍ چې د بربریانو څخه جوړ شوی وو

اندلس تر ونیږه ، طارق له آینا ، څخه تیرشو .
د جبل الطارق والي د مسلمانانو مقابلې تر راوت لیکن ماتر
یې وخوړه .
د هسپانیې پاچا په خپله یو لوی لښکر چې شمیر یې ۱۰۰۰۰۰
یولک تنو تر سیده تیار کړ او د مسلمانانو مقابلې تر
راوت . طارق له موسی څخه د مرستې غوښتنه وکړه او
هغه ۵۰۰۰ تنه نور هم ورولیږل د لاګو خنډه پر شاو
خواکښې دواړه پوځونه سره مخامخ شول . طارق خپل
ټول جهاز ونه وسوځول . د دې لپاره چې د مسلمانانو
سره د تښتې فکر پیدا نشي او مسلمانانو ته یې ډاډ ګنه
تقریر وکړ .
« اما بعد » خلکو ! دجګړې له میدان څخه ستاسې د

تپښتې د پاڼې هېڅ لاره نشته، مخکښې مودبنمن او شاتر مو بې دی. قسم پرخدای ج چې خلاصون یوائې پر ثابت قدمي او استقلال کښې دی.

دا هغه فاکټ یوځ دی چې مغلوب کیدای نشي کړچې دا دواړه خبرې (ثبات او استقلال) موجود وي د شمیر کموالی هېڅ نقصان نشي رسولای، او د اسلحې، سستي، تنبلي، نامردی، اختلاف او غږوړ سره د شمیر زیاتوالی کومه ګټه نشي رسولای.

خلکو! زما پیروي وکړی، کړچیری زه حمله کوم نو تاسې هم حمله وکړی او کلړچې زه حمله بندوم، تاسی هم حمله بنده کړی د جنګ پر وخت کښې سره ټول یوځای او یو وجود شی.

.... کړنۍ مړ شوم نو غم ونکړی او پرخپل منځ کښې
منازعه ونکړی حکمرچې د بنمن بر پر تاسو مسلط
شي اوتاسې بر ونیسي او وبر مووژني .....
خبرداړ اوسی چې ذلت تر راضي نشی او د بنمن
تر ځان تسلیم نکړی تاسو ته د خدای ج پر لاړ کښې
د تکلیف کاللو لر کښلر پر د نیا کښې عزت اوشرف او پر
آخرت کښې د شهادت اجر تاکل شوې دی نو د خدای
ج ج لاړ غوړ کړی اوس نو کرچې تاسی د خدای
ج ج د پناه او حمایت سړ سړ بیا هم پر ذلت باندې ـ
راضي شوی نو پر لوبر بدبختی کښې بر پر هوزی او نور
مسلمانان بر هم تاسې تر بد وایي حکمر نو څرنګه چې نړ ـ
حمله کوم نو پر هاغه شان تاسې هم حمله وکړی ".

پرد پې جګړې کښې د هسپانيې پاچا ماتې وخوړې اوپه
درياب کښې ډوب اومړشو. د پې لوی فتحې د مسلمانانو
حوصلې اوچتې کړې په مقابل کښې پې هسپانويانو خپلې حوصلې
بښې له لاسه ورکړې.

وروسته له دې جګړې هسپانيويانو ونشوکړای چې د
مسلمانانو په مقابل کښې مقاومت وکړي د امدادي فوځ
د سالېرلو په وخت کښې موسی طارق ته دا هدايت کړې
ووچې بايد تر څو دی رانشي په کومې لوړې حملې لاس
پورې نکړای شي، مګر طارق دده د دې حکم پروا
ونه سائله اوخپل پوځ يې پرځلورو برخو ووېشه، پوه
برخه يې د غرناطې پرلوړ، دوهمه برخه يې د قرطبې
پرلوړ، دريمه برخه يې د مالقه پرلوړ اوځلورمه برخه

ـې د طارق سره د پاچا د طلیطله ، پرلوړ سروان شو
له ټولو مرغه پرځلور واړو خواووکې بریالیتوب د
مسلمانانو پر برخه شو .
په دې وخت کښې موسی بن نصیر پرخپله د ۱۸۰۰۰ پوځ
سره د اندلس پر ساحل کښې ښکته شو او د څه معمولي
مقاومت څخه وروسته یې آشبیله اوماړده فتح کړه . د
دې څخه وروسته د طارق او موسی متحد پوځونو د
اندلس پاچا سیمې هم فتح کړې . موسی خپله د فرانسې
حدود وته ننوت او د تولې اړوپا د فتح کولو نقشه یې
جوړه کړې وه لیکن خلیفه ولید وړ ته اجازه ورنکړه او
بېرته یې راوغوښته . د هسپانیې د راستنیدو نه وړاندې
یې قرطبه د اندلس پایتخت وټاکله او خپل زوی عبدالعزیز

-پې هلته حاکم مقرر کړ کلدچې موسی بن نصیر دمشق
ته ورسید ولید وفات شوی وو، سلیمان، موسی بن
نصیر په زندان کې واچاوه، حال داچې ورو ستر بیا
د هوه سردار د سپارښتنت په اساس دخولکوتاوان
په ورکولو له محبس څخه خوشې شو.
داتاوان دومره زیات وو چې موسی نشو ورکولای لکه
نو دده ورو ستنې شوند په دې پرې بدحالی سره سر ته
ورسید.

د مسلم بن عبد الملک جنګونه

دروم سره

دروم قیصر د مسلمانانو د پرلوی دښمن وو له همدې کبله
وروڅې ولید مسلم یې خاصر توکر د رومیانو د مقابلې لپاره
مؤظف کړ البته ښه خواهم څو جنګونه د دوی په منځ کښې
پیښ شوی وروڅې په پای کې یې مسلمانانو د رومیانو څخه
ځینې سرحدي سیمې لکه: طوانه، عمرانه، مرقله، قمونیه
مسطیه اوسوطوس او داسې نورې وښوله.
په عمومي ډول د ولید زمانه په دوه برخو وویشل شوه،
هغه څې یې په لومړۍ برخه کې حجاج بن یوسف لرلو او
سرتېرې یې سیده او د یادونې وړ ده د سعید بن جبیر رضی

شهادت وو ، کلرچې سعید بن جبیر رض ، پر مرګ باندې
تهدید ږی ، حجاج تږې دا رنګه وفرمایل ؛
کړه پوهیدلې چې زما مرګ او ژوند ستا پر لاس کښې
دی نو ما برستا بنده ګي کړې وای لیکن زما مرګ او ژوند
د خدای ج پر لاس کښې دی
د ولید پر زمانه کښې د کشټو جوړ ولو فابریکې ، لوړې لارې
نهرونه ، څاه ګانې ، مسافرخانې ، یتیم خانې او محتاج خانې
جوړې شوې او د یتیمانو او بې سرپرسته نو لپاره یې د
بنسټونې اوس وینې مرکز ونه جوړ کړل .
د ولید د وفات څخه وروسته سلیمان پر تخت کښېناست
سلیمان د ترکستان فاتح قتیبه ، د سند ه فاتح محمد بن قاسم
او د اندلس فاتح موسی بن نصیر نامتو جنرالان لومړی

وځورول او وسوستېږي بيا په شهادت ورسول

تمرين

۱ـ دعبدالله بن زبير رض د شوندې پر باڼه کښې خپل معلومات بيان کړه ؟

۲ـ دعبدالملک بن مروان دحکومت پر دوره باندې لنډه رڼا واچوی ؟

۳ـ د اوّل ولید دحکومت په دوران کښې کوم ځايونه او دکومو قوماندانانو لاندې فتح شول ؟

د امیر معاویه رض فتوحات:

امیر معاویه رض ، ډیر تجربه کار سپه سالار وو
ده د حضرت عثمان « رض » په وخت کښې
جنګی بیړی تیاری کړې وې چې د دې بیړیو
په واسطه یې څو څو ځله روميانو ته ماتې ورکړه
د ده په وخت کښې مسلمانانو ډیر ځایونه -
وینول ، شمالي افریقا د مسلمانانو په لاس ورغله
دختیځ خواته تر ایران وینول شوا و د افغا
نستان لویدیزه برخه هم د مسلمانانو په لاس
ورغله ، همدارنګه څو نوي ځایونه اوهیوادونه
فتح شول چې د هغې ذکر په لاندې ډول کیږي :

حضرت عمر بن عبدالعزیزؒ

۹۹ ـ ۱۰۱ هجري مطابق ۷۱۷ ـ ۷۱۹ ميلادي

دده پلار د مصر والي وو دخپل زوی د تربيې پر برخه کښې يې ډېره توجه وکړه. عمر بن عبدالعزيز پر کوچنې توب کښې قرآن کريم حفظ کړ او پر پای کښې ډېر اوچت عالم وګڼې جوړ شو.

عمر بن عبدالعزيز د خليفه وليد بن عبدالملک پر زمانه کښې د مدينې منورې والي مقرر شو. د شورا يو مجلس يې جوړ کړ د شورې د مجلس لږ خوا ښه د ښار انتظام کېده. نبويؐ مسجد يې نوی ودان کړ، زيات سړکونه او ډګروونه يې جوړ کړل. د دې اصلاحاتو له کبله د عراق زيات هغه خلک چې غوښتل يې ترڅو ځانونه د

حجاج بن یوسف د ظلم څخه خلاص کړي حجاز تر راغلل
اوهلته ښ وند غوښ کړ . دې کار پر حجاج باندې
ډېر بد اثر وکړ . خلیفه ولید ته مجبور کړ چې عمر بن عبدالعزیز
له ولایت څخه لرې کړي ، پدې توګه دی ورو ورو ستر له
شپږ وکلونو د حجاز له ولایت څخه برطرف کړای شو .
ورو ورو ستر بیا کله چې ولید غوښتل تر څو د خپل ورور
سلیمان پر ځای خپل زوی ولیعهد وتاکي ، عمر بن عبدالعزیز
ورسره مخالفت وکړ ، او ځکه نو د دې کلونو د پاره بندي
شو .

سلیمان بن عبدالملک د مخ ترڼ ډې چې وفات شي ، عمر بن
عبدالعزیز ته د خلیفه پر توګه نامزد کړی وو پدې هکله
دی پخپله مسجد تر راغی او خلکو ته یې وویل : « ای خلکو

زه ستاسو د اړی څخه پرته پرتاسو مسلط کړای شوی
یم . زه دخلافت بار اومسؤلیت ننثم پورته کولای ، تاسې
زما د بیعت څخه آزاد یاست او اجازه درکوم خپلګرچې
غواړې خپل خلیفه انتخاب کړی ..»
خلکو په یو آواز سره وویل چې :
زمونږ په نظر کې له تا څخه بل څوک دخلافت مستحق نه
دي او مونږ ټول ستا په انتخاب باندې متفق یو. بلې
د ول دخلکود د هر اصرار څخه وروسته یې خلافت ومانه
اوخلکو ته یې وویل :
خدای ج . چې کوم شی حلال کړي هغه تر قیامته پورې
حلال دی ، اوکوم شی چې یې حرام کړی وي تر قیامته پورې
بدحرام وي ، زه دخپلې خوا څخه د فیصلې دکولو حق

نلرم بلکه یواځې د الهی احکامو نافذ کوونکی یم ترکوم وخت پورې چې زه پر الهي احکامو باندې عمل کوم تاسې زما اطاعت وکړی او کړچېرې ما پرکومه معامله کښې قرآنی اصول له نظره وغورځول نو تاسې زما اطاعت مه کوی. زه له تاسې څخه بهترینه یم یواځې زما مسؤلیت دخدای ج پر ورباندې له تاسې څخه زیات دی.

کله چې خلیفه شو نو دعدل او انصاف دا رنګه نمونه پې ورباندې کړه چې د خلفای راشدینو یاد بیا تازه شو، د مسلمانانو په زړونو کې اکثریت دده د خلافت دوره د خلفای راشدینو پر دوره کښې حسابوي.

اصلاحات: د امویانو هغه جایداد چې په

ظلم او زور سره لرخلکو نیول شوي وو ډیرتر ډهغوخاونداو
تر ورکړل . پدې برخه کښې یې لومړی دخپلې کورنۍ
څخه شروع وکړه خپل ځوان ځوی ،عبدالملک ،یې
سره وغوښت او ورته یې وویل :
«زه غواړم هغه ځمکې اوجایداد ونه چې زمونږ پلرونو او
نیکونو لرلې ،زمونږ لوخلکو څخه ترلاسه کړي ،ډیرتر هغوتر
ورکړم پدې برخه کښې ستا نظر څرنګ دی ؟»
زوی یې ځواب ورکړچې : «ډیر ښه نظر دی زما ځکه
چې خلکو ته یې اعلان کړو . حضرت عمر بن عبدالعزیز
وویل : کړچیرې ته زما د نظر سره متفق یې نو درانلونکې
جمعې پرورځ بیا یې اعلان کړو»
زوی یې ورته وویل : یا امیرالمؤمنین ! آیا ته دایقین

لږې چې د جمعې تر ورځې پورې به ژوندی وې، په دې
ژوند باندې تکبر کول په کار نه دی د نیک کار په
سر ته رسولو کښې ځنډ مه کوه".

حضرت عمر بن عبدالعزیز د خپل زوی له دې نظره څخه
په ډېر خوشحاله شو او سمدستي یې داخبره اعلان کړه
"کوم مال چې زما پلار او نیکه له چا څخه په زور نیولی
وو هغوی دې خپل مالونه بیرته له ما څخه واخلي".
ځینو خپرغوښتونکو عرض وکړ چې که ته دا ټول مال او
دارایي خلکو ته ورکړې نو ستا اولاد به څه کوي؟" ده
وویل: "هغوی په خدای ﷻ سپارم". د بني اُمیه
خاندان د دې اصلاحاتو مخالفت وکړ لیکن حضرت
عمر بن عبدالعزیز ورته وویل: زما دې په خدای ﷻ

سره قسم وي چې کرچېرې تاسې دخلکو مال ښېرتر ور
نکړې نه بر تاسې خوا ر اوذليل کړم "..
دغصب شويو جايدادونو ورکول پيل شول ،خليفه د
خپلې ماندينې نږيوړات هم بيت المال تر تحويل کړل .
خليفه ټولو ولايتونو ته د واليانو پر نامه احکام ولېږل
چې کرچېرته غصب شوي جايداد وي نو هغه دې بېرته
خپل خاوند ته وسپاري .

د مامورينو محاسبه :

دعمر بن عبد العزيز په وخت کښې به د مامورينو سره
محاسبه کېدله د ټولو څخه لومړی ـ يې يزيد بن مهلب
د خراسان له ولايت څخه لرې او محاسبه يې ور سره

پیل کړه او ورته یې وویل: ما تر د سلیمان پر نامه
ستا پولیک پر لاس راغلی دی چې پر هغه کښې
لیکل شوي چې ستاسې د خراسان د خلکو څخه دوه
کروړه روپۍ تولې کړی دي، هغه را وړه چې ترتدي؛
یزید ځواب ورکړ چې ما یوائې د خپل شهرت د پاره لیکلي
وو ځکه نې ما باور ونه کړ چې سلیمان نې ما څخه د دې پیسو
غوښتنه ترکوي.»

عمر بن عبد العزیز ورته وویل، چې دا د مسلمانانو مال دی
تا سې باید حتماً دا ادا کړی. یزید وویل: ما بیا خراسان
ته ولیږی چې نه-بې د خلکو څخه واخلم او بیایې تحویل
کړم. عمر بن عبد العزیز ورته وویل یو ځل خو دې له
هغوی څخه اخیستې دي او س غواړې چې د دوهم ځل

لپاره پې ورځخه واخلي . د دې څخه وروسته پې بندیخانې
تر ولیږه اوخراسان تر پې نوی والي وتاکه.
دحجاج بن یوسف لرخواڅې کوم کسان مقرر شوي وو
هغه پې ټول له کاره لرې کړل ، دحجاج خاندان پې یمن
تر تبعید کړ ټولو حاکمانو تر پې هدایت ورکړ چې یواځې
پرهغو اعمالو باندې چې شرعي حد لازمیږي سزا ورکړي
دخراسان حاکم ددوی پرځواب کښې ولیکل چې ،
ددې ځای اوسیدونکي د هر شریر دي اوپرتله تر تورې
او دُرې څخه پې بل شی اصلاح کولای نشي .
عمر بن عبد العزیز ځواب ورکړ چې تر غلط وایې ،عدل
اوانصاف د تورې او دُرې څخه ښه کار ورکولای
شي ، دده دهمدې عدل اوانصاف له کبله دخوارج

د پلې چې د بنې امیر د کورنۍ سره یې د بنمنۍ درلوده
د عمر بن عبدالعزیز خلافت تسلیم کړ او د شورشونو څخه
یې لاس واخیست. د ذمیانو سره یې د نرمۍ او شفقت
څخه کار واخیست چې د هغه نمونه ېوازې د عمر فاروق رض
پرته مانند کېنې لېدل شوې وو د ذمیانو د وینې بېه
یې د مسلمانانو د وینې د بېې سره برابره کړه، کومو
مسلمانانو چې د ذمیانو په مال باندې تجاوز وکړ هغو
ته بدنې پوره جزا ورکوله، حکامو ته یې هدایت ورکړی وو چې: د جزیې د اخېستلو په وخت کېنې له هېڅ
د ول شدت او زور څخه کار وانخلي او د محتاجو
او ضعیفو ذمیانو له پاره یې د بیت المال څخه تنخوا
تاکلې وه د عېسویانو او یهودیانو څو عبادت ځایونه

دهند او پاکستان په سرحدونو حملې

کدځه هم دعربو او دهند او پاکستان د قبایلو ترمنځ تجارتي اړیکې د پخوا څخه موجودې وې ، د اسلام د ظهور څخه وروسته هم مسلمانو تجارانو خپلې تجارتي بیړۍ د هندوستان ساحلونو ته بیولې د امیر معاویه رضی الله تعالی عنه په زمانه کښې په هندوستان باندې لښکرکشي وشوه ، یولښکر د مهلب بن ابي صفره په مشرۍ په ٤٤ هـ کال کښې کابل فتح کړ او د خیبر د درې له لارې هند ته ننوت ، یوبل پوځ د منذر په مشرۍ

چې د پښتو انيو حکومتونو لږ خو اخېستل شوي وو بېرته
هغوته ورکړل شول.

دده څخه پښتو ابدي اُمتېر خليفه ګانو د مُنبر پرسر
حضرت علي کرم الله وجهه تر بدولې او د علي کرم الله وجهه په
شيعيانو باندې بدې سختۍ را وستلې خو عمر بن
عبدالعزيز دا کار ونه بندکړل.

د بيت المال اصلاح بې پرېښه توکه سرته ورسوله
د تعليم پر ساحه کښې بې ډېرې هڅې وا ښت ټولو
حاکمانو ته بې هدايت ورکړ ترڅو د جومات تونو څخه د
دېنې تعليم مرکزونه جوړ کړي، او د دين علما وو ته
دې د حکومت لږ خو معاش وټاکل شي، د نبوي ﷺ
احاديثو پرې را ټولولو کښې بې هڅې وا ښت، د طب

کتابونه پې له هوتانې څخه ترجمه کړل.
لنډه داچې دعلم ساحې ته ډېر زیات پاملرنه کوله
دعمر بن عبدالعزیز په وخت کښې دجنوبي فرانسې زیانه
برخه د مسلمانانو په لاس فتحه شوه.

وفات اوسیرت:

دعمر بن عبدالعزیز د زیاتو اصلاحاتو له کبله اموی امراء
د ده سره مخالف شول، هغوی د ده ډیل چې کړچېرې
د احالت د وام وکړي نوحکومت به د دوی دخاندان
له لاسه ووځي ځکه نو د هوه ساعت ېش په له کښې ېې
د هوه غلام په لاس دخلیفه پرخوراکي موادو کښې
زهر واچول چې د هغې په نتیجه کښې دوی په ۱۰۱ هـ،

کال کښې وفات شول .

ده دوه کاله اودوه میاشتې دخلافت وظیفه سرته
ورسوله اودعمر په ۳۹۰ کلنۍ کښې ې له دنیا څخه
رحلت وکړ .

د سپرت له پلوه دخلقای راشدینو سره یوشان
وو . د پا د شاهی لرجاه اوجلال څخه بېزاره وو . کالیو
بدې پیوند ونه درلودل ، دوړځې دوه درهمه بر
ې له بیت المال څخه پواځې پر هغه وخت کښې اخیستل
چې څه بدې نه درلودل .

د یتیمانو سره نه اود وبنو مېرو ل یې پرځان لازمي
ګرځولې وو .

دده دخلافت پر زمانه کښې یوه داسې وړځه هم

راغلې چې خلکو به صدقه او خیرات فقیرانو پسې کړ ځاوه
لیکن فقیران او مسکینان به نې نه موندل .
دده د خلافت دوره د اسلام په تاریخ کښې هوه ځلانده
دوره شمیرل کیږي . کله چې عمر بن عبد العزیز خلیفه شو
نو ده ته د شاها نو سپرلی وه اندې کړاې شوه ، لیکن
هغه و نه منله او وې فرمایل : زما لپاره خپل قحی کافي
دی ، کله چې پرخاندان باندې د بیت المال د
هغو مالونو ورکول چې دوی ته د پخوا څخه ورکول کیده
بند کړل نو عینیه بن سعد ورته شکایت وکړ او وې
ویل چې ای امیر المؤمنین !
په تا باندې زمونږ حق دی ، هغه ورته په ځواب کښې
وفرمایل ، ځما په شخصي مال کښې چې ستاسې حق ـ

ثابتېدای شي دومره ګنجایش نشتر او پر بیت المال
کښې ستاسې لپاره ددې څخه زیات حق نشتر
پدې معامله کښې هر بل مسلمان اوتاسې برابر یاست
پرخدای ج باندې قسم دی کر تولر دنیا ستاسو سره
پرپوه نظر شي نوهغوی باندې برهم دخدای ج عذاب
نازل شي .

هوځل دیمن لر بیت المال څخه پوه سکه ورلر شوه حضرت
عمر بن عبدالعزیز دهغه ځای دخزانې افسر تر ولیکل
زه ستا پر امانتداري بدګمان نه یم لیکن د بې پروایې
پرجرم دې محکوموم اودمسلمانانو لرخوا دهغوی دمال
غوښتونکی یم ، ځکه نو پرتا باندې فرض دی چې دخپل
ځان دبرائت لپاره قسم وکړې .

د مهاجر بن یزید شخه ر وایت دی چې مونږ د صدقې پر
تقسیمولو باندې مقرر وو هر وخت د خلکو حالت تر دې
اندازې بنه ر شوچې د لومړي کال صدقه اخیستونکو به پر
دوهم کال کښې پخپله صدقه ورکوله.
هرځل د حیرې هر مسلمان هر ذمي پر قتل ورساوه،
حضرت عمر بن عبد العزیز د حیرې حاکم ته ولیکل چې، قاتل
سمدستي د مقتول ورثې ته حواله کړي ترڅو د وژلو پا
معافولو تصمیم پې وښیسي. د همدې حکم پر اساس قاتل
چې مسلمان وو، د ذمي ورثې ته وسپارل شو او هغوی
پر قتل ورساوه، همدارنګه هر مسلمان، ر بیعه شعوذي
د دولتي کار لپاره د هر ذمي آس د بې کاره پر ډول واخیست
حضرت عمر بن عبد العزیز د ی څلویښت ډرې ووا هه

د ډوٴ ذمي ځمکه د عباس بن ولید په لاس کښې وه هغه
ذمي خپله دعوی حضرت عمر بن عبدالعزیز ته وړاندې
کړه ، حضرت عمر بن عبدالعزیز د عباس څخه پوښتنه
وکړه چې تا سره د دې ادعا په هکله څه ځواب دی ؟
هغه په ځواب کښې وویل : دا ځمکه ځما پلار د هغه له
پلار څخه قبضه کړې وه او له ما سره د هغې سند موجود
دی . حضرت عمر بن عبدالعزیز وفرمایل : « د خدای ج
کتاب د ولید په سند باندې مقدم دی ، د ذمي ځمکه
بېرته ورکړه » .

پو وخت هشام بن عبدالملک په پوه عیسایي باندې
عمر بن عبدالعزیز ته دعوی وړاندې کړه ، عمر بن
عبدالعزیز دواړه برابر ودرول ، دې کار په هشام بد

اثر وکړ او دعیسایي سره یې سختې خبرې وکړې ،
عمر بن عبد العزیز هشام تهدید کړ .

حضرت عمر بن عبد العزیز ټولو حاکمانو ته فرمان لیږلی
وو چې د لمانځه په وخت کښې ټول کار ونه پریږدي
ځکه هغه څوک چې لمونځ ضایع کوي هغه به د نورو
وظیفو او مسؤلیتونو نه ډیر ضایع کوونکی هم وي » .

په وخت حضرت عمر بن عبد العزیز د څراغ رڼایي تر
سرکاري کار کاوه ، په سړی راغی ، څنګه چې کار شخصي
وو ، نو څراغ یې مړ کړ ، او په تیاره کښې یې وړ سره خبرې
پیل کړې . هغه سړي د څراغ دمه کولو علت پوښتنه
وکړه . هغه ورته ځواب ورکړ ، دا سرکاري څراغ دی
او زه له تا سره شخصي خبرې کوم نو له همدې امله

مې څراغ مړکړ . د بیت المال روپۍ مونږ پخپل شخصي کار کښې نشو مصرفولای .

وایي چې پوځل بیت المال تر ده پرې منې راغلې ، کلرچې حضرت عمر بن عبد العزیز هغه پرمسلمانانو باندې تقسیموله دهغه وروکي زوی یوه منه پورته کړه اوغوښتل یې چې وې خوري ، حضرت عمر بن عبد العزیز د زوی د خولې څخه منه واخیسته ، ماشوم پرې ژړا شو اومور ته پرې شکایت ورغی .

مور یې له بازاره څخه منه راوغوښته اوهغه ته یې ورکړه . کلرچې حضرت عمر بن عبد العزیز کور ته راغی د منې بوی یې احساس کړ له بنځې څخه یې پوښتنه وکړه چې سرکاري منې خو دلته نه دي راغلې ؟ کلرچې بنځې

ورتر نولږ واقعه بیان کړه نو بیا یې اطمینان حاصل
شوا وښځې تر یې وویل : زما د پر خدای ج قسم وي
کله چې ما دخپل ځوی دخولې څخه منهر واخیست لکه
چې دخپل زړه څخه مې اخیستې وي خو دا کار مې ځکه
وکړ چې وېرېږم د مسلمانانو دمال پر بدله کښې دخپل
الله ج پر وړاندې ونه درولی شم .
حسن قصاب ویلې دي چه : ما دحضرت عمر بن عبدالعزیز
دخلافت پر دوران کښې ولیدل چه لېوان دوړو
سره ږوځای څرېدل هغه وخت ما د هر تعجب وکړ او
ومې ویل سُبْحَانَ الله ! چه لېوه پر وړو وکښې څوند
کوي او بوه تر هم نقصان نه رسېږي ، شپون دا
واورېدل او ویې ویل : چې کله د کوم چا سر روغ وي

د مکران له لارې په سند باندې حمله وکړه ،
مهلب او د هغه جانشینانو لکه عبدالله بن عامر
د هندوستان په شمالي سرحدونو کښې ډیرې
سیمې فتح کړې په قلات باندې یې هم حمله وکړه
لیکن څه نتیجه یې ورنکړه . بلاخره وخت کښې
مسلمانانو دیوه خونړي جنګ نه وروسته —
قندهار فتح کړ او د سند د نیولو له پاره مختلف
پوځي توګې ولیږل شول چې دغه فوځي تولیو
د بوتان او فیقانز " قلات " سیمې فتح کړې ،
حال داچې دنوې سند فتح د ولید په وخت کښې
وشوه .

نوبیا ټول وجود بریې صحیح او سالم وي .
پر همدې ډول یوه روایت له مالک بن دینار څخه
هم شوی او وایي چې کله حضرت عمر بن عبد العزیز خلیفه
شو نو شپږ ورځې پر دې هر تعجب سره وېل چې دا څوک -
خلیفه مقرر شوی چې لېوان نه مونږ پرون وحمله
نه کوي .
موسی بن اعین ویلي دي چې ما د حضرت عمر بن عبد العزیز
د خلافت پر زمانه کښې د کرمان پر منطقه کښې
وزې څرولې ، وزې او لېوان به یوځای څړېدل ،
لېوانو به وزو تر نقصان نه رساوه ، ناڅاپه یوه لېوه
یوه وزه وخځلوله ما وېل دا سې ښکاري لکه نن چې
هغه صالح خلیفه وفات شوی وي کله چې ما تحقیق وکړ

نو پدر بستپاهم حضرت عمر بن عبد العزیز وفات شوی وو
دعون بن معمر وینادہ چې یوه ورځ عمر بن عبد العزیز
خپلې ماندېنې تر وویل ، فاطمې !
کر لږ تاسره یو درهم وي نو ما تر یې را کړه ځکه ښه مې -
انګور وتر زړه شوی دی هغې ور تر وویل چې ، زما سره
درهم نشته ، خو آیا امیر المومنین دیوه درهم صلاحیت
هم نشي لرلای چې انګور پرې واخلي ؟ .
حضرت عمر بن عبد العزیز وفرمایل چې د انګور وښخورل د
سبا ورځې دجهنم پر ځنځیرونو کښې د تړل کیدو څخه
ښه اوغوره دی .
کله چې عمر بن عبد العزیز خلیفه وتاکل شو ، نو کور تر
را غی پر مصلي باندې کښیناست او پدې زړه شو ، دومره

يې وژړل چې نن يره مبارک ته لنډه شوه ، دده ماندګۍ
ورځې پوښتنه وکړه چې ستا ژړا څه لپاره ده ؟
هغه ورته په ځواب کې وويل : ای فاطمې ! نن زما په
غاړه د مسلمانانو دسا تنې ، نجات اود بهبود ټول بار
اچول شوی دی ، زه د بې وزو ، بربنډو ، فقیرانو ، ناروغانو
بې وزلو ، قیدیانو ، مسافرو ، کوچنیانو او ضعیفانو د حالاتو
په هکله غور او فکر کوم چې کله چې له دوی څخه د کوم
یوه په باره کې الله ج له ما څخه پوښتنه وکړي او ما سره
ځواب نه وي ، نو بیا به څه وشي ، نو زه له همدې کبله
ژاړم .
عمر و بن مهاجر وایي چې یوځل د هغه زړه منې ته ورغلم
د حضرت عمر بن عبد العزیز په خپلوانو کښې پوسرې

د تحفې پر توکړ منې ورته راولېږلې، ده د منو د پرصفت
وکړ، بیاې غلام ته وویل، کوم سړی چې ما ته منې رالېږلې
دي هغه ته زما لرخوا سلام او شکریه ورسوه او ورته
ووایه چې ستا تحفه دې په بنه وه او منې یې پرته ورته
ولېږلې.

عمرو بن مهاجر وایي چې ما ورته عرض وکړ چې هدیه خو
د رسول الله ص. هم قبلوله، دایې وا ړه دل، او ویې ویل،
افسوس دي وي پر تا باندې! هدیه خو د رسول الله ص.
لپاره هدیه وه لېکن زمونږ لپاره رشوت دی.

دمروان دکورنۍ څوکسانو تصمیم ونیوچې باید دوی
دعمر بن عبد العزیز پاملرنه خپل ځان ته د توکولو لاره
راوایي. کله چې عمر بن عبد العزیز ته ورغلل نو دوی

پر توکو پیل کړ ده ورته وویل، چې تاسې دلته د توکو لپاره راغلي یې، تاسې ته معلومه نه ده چې توکې پرځپل منځ کښې دکینې او فساد پیدا کول دي مناسبه داده چې تاسې زما سره د قرآن او حدیث خبرې وکړی او دهغې پر مطالبو غور وکړئ چې بیا ورڅخه پوره فایده واخلو.

د عمر بن عبد العزیز د وفات څخه لږ څه مخکښې مسلمه بن عبد الملک ورته عرض وکړو: امیر المؤمنین! تاسې تل دمال او دولت نه ځپل اولاد ونه محروم ساتلي او هغوی موتښ لاس ساتلي دي دهغوی پر هکله ما اویا دخپلې کورنۍ کوم بل سړي ته وصیت وکړه.

عمر بن عبد العزیز پر ځواب کې ورته وویل: زما دې

پرخدای ج. سره قسم وي چې ما د هغوی حق نه دی تلف کړی ، البته کوم مال کښې چې د هغوی حق نه ووهغه مې نه دي ورکړي ، تاسی وایې چې د دوی پرهکله چا ته وصیت وکړه خو په دې معامله کښې زما وصي اوولي زما خدای ج. دی هغه خدای ج. چې د ټکانو لي دی . زما زامن که د خدای ج. څخه ووېرېږی نو خدای ج بر د هغوی لپاره لاره پیدا کړي ، او که چېرې په ګناهونو مبتلا شي نو زما مال هغوی ته فایده نشي رسولای .

بیا یې خپل زامن را وغوښتل او ورته یې وفرمایل : زما ځان دې له تاسې قربان شي تاسې مې خالي لاس پرېښودی ، لېکن د خدای ج شکر دی چې تاسې

مې په ښه حالت کښې پرېښودی . زامنو!
داسې عرب اوذمې به پیدا نشي چې په تاسې باندې
بې حق وي .
زامنو! د دوه خبرو څخه ډیره ستاسې دپلار په
اختیار کښې وه هوه داچې تاسې دولتمند شوي وای
اوستاسې پلار دوزخ ته تللی وای، دوهمه داچې
تاسې خالي لاس اوسئ اوستاسې پلار جنت ته لاړشي
خدائ دې تاسې پرخپل امان کښې وساتي"
عمر بن عبدالعزیز له همدې ویناڅخه وروسته وفات شو
اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ط

یزید ثاني

(۱۰۱ـ ۱۰۵ هجري مطابق ۷۱۹-۷۲۳م)

د حضرت عمر بن عبد العزیز د وفات څخه وروسته د خلیفه سلیمان د وصیت سره سم یزید بن عبد الملک د مسلمانانو پادشاه شو. نومورې د هرعیاش سړی وو دده د عیاشۍ پر نتیجه کښې د انحطاط زمانه پیل شوه. د ټولو څخه لومړی یزید بن مهلب د خاندانې عناد پر وجه د شورش بیرغ پورته کړ، دی هماغه سړی دی چې عمر بن عبد العزیز د خراسان د خراج د نه اداکولو په سبب بندي کړی وو.

کله چې عمر بن عبد العزیز د مرګ پر بستر کې پرېوت نو دی له محبس څخه وتښتید، د بصرې اموي حاکم یې ونیو،

اوبندي پي کړ، ورو وسته تر هغه پي په فارس، اهواز
اوکرمان باندې هم قبضه وکړه او يو لوی لښکر پي د
يزيد ثاني په مقابل کښې برابر کړ، يزيد ثاني خپل ورور
مسلمه بن عبد الملک دده د مقابلي لپاره ولېږه، په عراق
کښې دې هر سخت جنګ پېښ شو چې په نتيجه کې پي يزيد
بن مهلب اودده دکورنۍ نور لوی غړي په جنګ کښې
ووژل شول.

د يزيد بن مهلب دناکام بغاوت نتيجه دې هره خرابه او
خطرناکه شوه ځکه چې دعربو د قبيلوي حسد اوکينې اور
په ټول اموي سلطنت کښې بل شو او په مختلفو سيمو
لکه افريقه، هسپانيه، ماوراالنهر اوداسې نورو
ځايونو کښې شورونه شوه اوکورنۍ جنګونه پيل شول

اوحاکمانو دعدل او انصاف پرځای دظلم او تېري څخه
کار اخیستل پیل کړل . دهمدې نیمګړتیا و په نتیجه
کښې دعباسیانو سیاسي تحریک پیل شو، سره لدې چې
دعباسیانو سیاسي تحریک دهشام بن عبدالملک په
وخت کښې اوج ته ورسیده .
یزید ثاني په ۱۰۵ هـ کال کښې وفات شو، د مرګ څخه
مخکښې یې لومړی خپل ورور هشام بن عبدالملک او
ورپسته بیا خپل زوی ولید خپل جانشینان وټاکل .

تمرین

۱ــ دحضرت عمر بن عبدالعزیز دخلافت لومړنۍ خطبه

د ترکستان فتوحات:

په ۵۴ هـ کال عبید الله بن زیاد د خراسان والي وټاکل شو، دی د یزباهمنده او حوصله ناک ځوان وو.

ده په ترکستان باندې حملې وکړې او څو بنارونه یې فتح کړل. د ده جانشین سعید بن عثمان رض دغه کار ته دوام ورکړ، د جیحون د دریاب څخه تیرشو او د سغد د سیمې په مرکزي برخه باندې یې حمله وکړه، په دې وخت کښې د سغد حاکم یوه بنځه وه چې نوم یې «قبق» وه، قبق غوښتل چې صلح وکړي مګر د هغه خلکو صلحه قبوله نکړه او د مقابلې لپاره یې تیاري

بیان کړی ؟

۲ـ ولې د حضرت عمر بن عبد العزیز د خلافت دورې د را شدینو خلیفه ګانو په شمار کښې راولې ؟

۳ـ د عمر بن عبد العزیز سیرت او کارنامې په مفصل ډول بیان کړی ؟

٤ـ د دوهم یزید د حکومت په دورې باندې مختصره تبصره وکړی ؟

هشام بن عبدالملک

(۱۰۵ ـ ۱۲۵ هـ مطابق ۷۲۴-۷۴۳ م)

هشام بن عبدالملک نرم مزاجه او پوه سړی وو، ده غوښتل چې د شریعت خلاف کار ونه کړي خو د خلافت او د دربار څخه لرې کړي لیکن کومې وړانۍ چې د ده څخه مخکښې پر ملک کښې شوې وې ده پروګرامونو په مقابل کې خنډ وګرځید.

د هشام بن عبدالملک په وخت کښې مسلمانانو د قفقاز او ترکستان څخه پوه برخه، او همدارنګه د فرانسې ځینې جنوبي برخې ونیولې. د همدې خلیفه په زمانه کښې مسلمانانو د خپلو فتوحاتو لمنه د فرانسې خاورې تر څپړه کړه خو فرانسې د پاچا لدخوایې په پوهه نومې ځای کې ماتې وخوړه.

د دې کورنۍ وروستۍ پاچا مروان حمار دی چې د
۱۲۳ - ۱۲۷ هجري پورې پې حکومت وکړ.

د امویانو دورې تړونکتنه

۱ـ د خلیفه تاکل: د راشده خلیفه کانو په دوره کښې خلیفه د ملت له خوا تاکل کیده او د خلافت مقام او دنده میراثي نه وه، خو امویانو د خلکو د رضا او خوښې پر خلاف او په زور سره سلطنت لاس ته راوړه، او برسېره پر دې پې حکومت پر خپله کورنۍ کښې میراثي وګرځاوه.

۲ـ بیت المال: ـ د راشده خلیفه کانو په زمانه کښې پر حقیقي توګه بیت المال موجود وو، چې خلیفه په هغه

کښې دلاس وهلوحق نه درلودخو دامویانو پردوره
کښې بیت المال اودولتي مالیې دخلیفه ځانګړی عایدات
وګڼل شو ، او دوی به دبیت المال پیسې پرخپله خوښه
لګولې ، لکه چې امیرمعاویه دمصر ټول عایدات عمروبن عاص
ته دهغه خدمت په بدل کښې چې دصفین پرجګړه کښې
یې سرته رسولې وو ورو ورو ښښل .

۳ـ فتوحات :دفتوحاتو له پلوه اموي امپراتوراسلامي
ملّت ته ډېرلوی خدمتونه کړي دي
عربستان ، فلسطین ، عراق ، ایران ، نیمایي افغانستان
ترکستان ، سند ، اودپنجاب پوه برخه ، مصر ، طرابلس
تونس ، الجزایر اودهسپانیې ډېرې برخې داموپانو په

میراطوري کښې شاملې وې.
امویانو د اپراخ مملکت په اوو برخو وپښلې وو او هره برخې واکي یې یوه نایب الحکومه ته پرلاس ورکړې وې، چې نایب الحکومه کان به په کور ښوچار وکښې خپلواک، خو په باندښنې سیاست کښې د خلیفه پاپاچا دامر تابع وو، په دې دوره کې د خلافت مرکز دمشق وو دلته دا هم باید وویل شي چې د اوّل ځل د پاره امویانو سکې ته هم رواج ورکړ.

٤ ـ د امویانو د سقوط سببونه:

اموی سلطنت د مروان حمار په زمانه کښې سقوط وکړا و د سقوط علتونه یې هم دا ووچې لومړی دوی

سلطنت پرخپله کورنۍ کښې میراثي کړ او د راشدۍ خلیفګانو
دکړنلارې پرخلاف يې خپلې چارې دخلکو له مشورې او
سلاګنې پرته پرخپله خوښه اجرا کولې ، او دخلکو زړونو
تر يې چې د پادشاهۍ بنیاد جوړوي هیڅ پام نه ساتر
خلکو به ورته پر بده کتل ، پر تېره بیا دکربلا له پېښې ځکه
ورو ستر دخلکو نفرت اوکړکه د دې کورنۍ پر مقابل کې
زیاتر شوه ، اموي پادشاهانو دخپلو شخصي غرضونو
له کبله خپل لوی جنګي افسران لکه طارق ، موسیٰ او
محمّد بن قاسم چې د هسپانیې ، فرانسې او سند جنګیالي
فاتحان وو نه پرواځې دا چې ووژل ، بلکه دهغوی سپکاوی
يې هم وکړ .
نور زیاتی ، سپکاوی ، عیاشي ، بې ځایه لګښتونه او

بیت المال تر لاس اچول ټول د امویانو د سلسلې د سقوط له سببونو څخه وو.

د امویانو پر خلاف لومړی پاڅون پر خراسان کښې د ابومسلم خراساني له خوا پیل شوه

تمرین

۱ـ د هشام بن عبدالملک د خلافت واقعات بیان کړی؛

۲ـ د امویانو د کورنۍ د زوال اسباب بیان کړی؛

۳ـ د امویانو د ۹ د خلفای راشدینو د دورې سره مقایسه او پر ضعیفو تکو باندې یې تبصره وکړی؛

دریم فصل

جغرافیه

جغرافیه هغه علم دی چې د ځمکې د سطحې په باب خبرې او څېړنې کوي، د جغرافیې په مرسته کولای شوچې د ځمکې د مخ د غرونو، سیندونو، بحرونو، هوادونو او براعظمونو په هکله معلومات لاس ته راوړو.

همدارنګه د جغرافیې په مرسته د نړۍ د وګړو او د هغوی د ټولو اقتصادي (کرنه، صنعت او نور) ـ اجتماعي (ژبه، مذهب او نور) او سیاسي (پایتخت حکومتي تشکیلات او نور) فعالیتونو په هکله هم معلومات ترلاسه کولای شو. دا دی ترټولو د مخه د ګرانوزده کونکو

پاملرنه دځمکې کړې تر اړځوو.

الف: ځمکه:

ځمکه د شمسي نظام له سیارو څخه ده.
ځمکه په کال کښې هوا، پرېوې بیضوی مدار
باندې د لمر په شاوخوا راځرخي.
یو کال ۳۶۵، ورځې او ۶، ساعته دی
یو کال په څلورو فصلونو وېشل کېږی، لکه:
پسرلی ـ اوړی ـ مني او ژمی. چې البته د
لمر په شاوخوا کې د انتقالي حرکت په ترڅ کښې
منځ ته راځي. ځمکه په هوه شپه او ورځ کښې هو
ځل د خپل محور په شاوخوا هم کړځي چې شپه او

وسځ ورځخه پیدا کیږی .
دې حرکت ته دځمکې وضعي حرکت وایې

د استوا کربنه :

هغه فرضي کربنه ده چې ځمکه په دوه نیمایي برخو وېشي . د اکربنه په طول البلد ونو باندې په عمودي ډول واقع شوي او د عرض البلدونو ترټولو لویه دایره جوړوي .

د ځمکې هغه نیمه برخه چې د استوا د کربنې شمال خوا ته پرته ده ، شمالي نیمکره او هغه برخه چې د استوا د کربنې جنوب خوا ته پرته ده جنوبي نیمکره بلل کیږی .

وینوه .

پدی ډول قبق د «۱۲۰۰۰» پوځ سره مقابلې تر
راووتلو، پر بخارا کښې د واړه پوځونو سره -
مخامخ شول . د جنګ د پیل څخه مخکښې د سغد
د خلکو په منځ کښې اختلاف پیدا شوا و یوزیات
شمیر خلکو میدان پریښود نو مَلکې د صلحې -
درخواست وکړ چې د مسلمانانو لرخوا و منل شو
پدې ډول مسلمانان له وینو توپولو پرتر بخارا تر
ننوتل .

د بخارا د تسلّط څخه ورروسته سعید رض «
د سمرقند پر لوري وخوځید او د سمرقند بنار
بې محاصرې کړ ، د بنار خلکو په کلکه د دفاع کولو

د اسلامی سیوونو امکانات د خدای (ج) په لطف د اسې برابر کړي چې د رب الارباب د رضا د حصول په لیاړ کې به هیڅ ډول قدرت زمونږ د مقدسې او تینګې میلې ملي خدمت کیدلای نشي .

د بې هدفه کمونیزم ټول وحشیانه او غیرانساني کړنې لکه عامه وژنه ، څوکندي ښخول ، چور او چپاول ، د کورونو اوډکرهنې محصولاتو په اور کې سیزل ، د شریفو او مقدسو مساجدو او متبرکو اماکنو ویجاړول ، د زعرلرونکو کار نه واستعمالول ، د بې ځایه اومسموم پروپاګند ، موږ په ګران هیواد افغانستان کې فقط او فقط زمونږ د تصمیم نیولو د کرنلارې کله نا کله د تأخیر د یرسیک علت د ی او بس .

د افغانستان مسلمان ملت چې د حبل المتین متمسکین او د آسمانی ارشاداتو ممثلین دی . د دوی د قهر او نفرت سیلاب څپانده شو . او د پاک خدای (ج) د وینا سره سم چې فرمایلی (جاهدو فی الله حق جهاده ۷۸ آیه د حج سوره) یعنی جهاد وکړی د خدای (ج) په لار کې د خدای (ج) حق جهاد . نو ځکه د اسلام د عالی تعالیمو ارشاداتو په رڼا کې حق جهاد ته ادامه ورکوو تر څو چې د اسلاف پوهې بله د یوه د علمي او مسلحانه جهاد په د ښل کې تقویت کړو .

ګرانو شاګردانو! څرنګه چې تاسو ته څرګنده ده . چې د اسلام د عرفان زده کولو د دوو لارو د یعنې کتابونه چې په پښتو ژبو اتمادو پورې مربوط دي استفاده کوله .

د جهاد د تنظیمونو محترمو رهبرانو زده کونکو د افکارو د تشتت د مخنیوي په منظور پدې د روستیو کې ټینګې ډول د ژبې او سیوونو مسؤلینو نه صلاحیت او هدایت ورکړو چې د ټولو مضامینو او علومو کوم چې په تعلیمي نصاب کې دي یو د ول کتابونه چاپ او د مجاهدینو او مهاجرینو ترامنو د استفادې د پاره په برابر کړي . چې د محتوا او مفهوم له نظره د اسلام د مقدس دین محمدي (ص)

غزا شریعت ، او د حنفي مذهب ضامن اوساتنه وی وي . او د مجاهدینو او مسلمانو مهاجرینو د ټولو اعتماد ته تائید ورکوی .

نوید ي اساسي دښمنونو او روزنې دهم آمکئ عالي شوري چې د ټولو محترمو مېرانو د تائید له مخې تاسیس شوه . چې د ښمنونو او روزنې هم آمکئ عالي شوری دافغانستان د تعلیمي مرکزادارې تاسیس کړه . چې نومورې مرکز په خواهمو شعبو باندې ټولګه ؛ د تعلیمي نصاب مدیریت ، د نظارت او تفتیش مدیریت ، د پلان او خارجي اړتباط مدیریت ، د اجرائي مدیریت ، مالي مدیریت ، د ښمنونو او روزنې مدیریت ، د سواد او زده کړې مدیریت شامل دي .

د دې مرکز منسوبین د ټولو تنظیمونو د ښمنونو او روزنې متخصصین او پوهانو څخه اشخاص دی چې ټول غړي ئې په مجدّانه او متحدانه ډول سره د اسلامي ښوونې او روزنې د تحکیم او تعلیمي نصاب د توحید د پاڼې کار کوی .

پس له مختلفو مشورو ، نه د تعلیمي نصاب متخصصین د درسي مضامینو د کتابونو د تدوین په باب کې دې نتیجې ته وې رسیدل چې د جهادي سختو شرایطو او د کافي وخت نه موندلو لپاره اوس اوس د دوو یا خو اړینو تمادونو د درسي کتابونو ئې سره پرتله کړه او هغه عناوین او مضامین چې دښمانو د مشکلاتو په نظر کې نیولو سره د اسلام او جهاد د کتنې وی ټول وتاکل .

وروسته د تعلیمي نصاب مدیریت دیاړې چې هغې وخت او بخت ئې پیدا کړ توجه وکړه د دواړو جهادي اتمادونو د درسي مضامینو مختلف کتابونه چې د مختلفو نصابونو له خوا طبع شوی وو سره پرتله کړی او هغه مطالب او مضامین ئې وتاکل چې د اسلام مقدس دین د ښمنونو او روزنې له نقطه نظره د زده کړې وړ او د زده کونکو د پوهې سطحې سره مناسب ښکاره شول او جهادي شرایطو سره موافق وی انتخاب او چاپ کړی .

من الله التوفیق .

فهرست

عنوان	مخ	عنوان	مخ
لمړی فصل		د امویانو دوهمه دوره	۲۸
معاویه بن ابوسفیان د	۱	عبدالله بن زبیر	
اموي دولت مؤسس		عبدالملک بن مروان.	۳۴
د امیر معاویه فتوحات.	۵	دقیا مونو له منځه وړل.	۳۵
دهند اوپاکستان پرسرحدونو	۶	د عبدالملک حکومت ته	۳۸
حملې.		یوه کتنه.	
د ترکستان فتوحات.	۸	ولید بن عبدالملک.	۳۹
دمعاویه سیرت، سیاست اوکارنامې	۱۰	د ولید دوخت فتوحات.	۳۹
یزید بن معاویه.	۱۵	ماوراءالنهر	۴۰
معاویه ثانی.	۲۳	محمد بن قاسم اودسند فتوحات.	۴۲
تمرین	۲۶	دمحمد بن قاسم وژل.	۴۷
دوهم فصل		موسی بن نصیر اودا ندلس فتوحات.	۴۸

فهرست

عنوان	فخ
دطارق بن زیاد داخلیدل اندلس تر	۵۰
دمسلم بن عبد الملک جنگونه	۵۷
دروم سره .	
تمرین.	۵۹
حضرت عمر بن عبد العزیز رح	۶۰
اصلاحات	۶۳
دمامورینو محاسبه	۶۶
وفات اوسیرت .	۷۱
یزید ثانی .	۸۷
تمرین .	۸۹
هشام بن عبد الملک	۹۱

عنوان	
داموپانودوری تریوه کتنه	۹۲
دخلیفه تاکل .	۹۲
بیت المال .	۹۳
فتحی	۹۳
داموپانود سقوط سببونه .	۹۴
تمرین .	۹۶
دریم فصل	
جغرافیه	۹۷
الف ، حمکه	۹۸
داستواکربنه	۹۹

فهرست

عنوان	مخ	عنوان	مخ
د سرطان کربنه .	۱۰۰	تمرین .	۱۱۴
دجدي کربنه	۱۰۱		
د شمالي قطب دایره .	۱۰۱		
دجنوبي قطب دایره .	۱۰۲		
عرض آلبلد .	۱۰۳		
طول آلبلد	۱۰۴		
ب ، شمسي نظام .	۱۰۶		
دشمسي نظام مشهوري سیاري .	×		
سپوږمۍ .	۱۰۸		
سپوږمۍ نیول خسوف .	۱۱۱		
لرنیول کسوف .	۱۱۳		

د افغانستان د تعلیمي مرکز د نصاب
اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادي تنظیمونو د تعلیمي نصاب توحید، د یو متوازن او جامع اسلامي بنوونځي او روزنې مرکز رامنځته کول چې د هر ډول باطل پرستۍ او بدعتونو ضد وي. همدارنګه اسلامي کلي قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامي ټولنه کښې غواړي.

خصوصي هدف:

د اسې نصاب دی چې د اسلام سپاهیان او د حقیقت لارې تلونکي ته د یو والي او وحدانیت لارښوونه کوي تر څو چې دوي په مستحکم اود ایمې توګه دعالي او معتدلو اسلامي سنتو او قوانینو متمسک وي.

د انصاب د اسلامي بنوونې او سواد «د جهادي، فرهنګي، فلسفي، اقتصادي تخنیکي، مدني، معیشتي شرایطو په نظر کې نیولو سره» ضامن دی.

چې په عین وخت کې د نړۍ شلید ونکي پیوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مقدسو حقایقو مبین وي.

آخري هدف:

د کلمة الله اوچتوالی، د اسلام د شان او عظمت بنودل د نړیوالو تې، د کفر او کمونیزم اضمحلال، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدي (ص) غرا شریعت د حنفي فقه په اساس خاص د خدای د رضا د حاصلیدلو په نیت د زمانې د طاغوتیانو سره مبارزې د دې تعلیمي نصاب آخري مرام دی.



د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد

دافغانستان تعلیمی مرکز

دنصاب مدیریت

اجتماعیات

د شپږم ټولګي لپاره

مؤلف : امین الله (فرزانیار)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

اجتماعیات

د شبنم توکلی لپاره

بسم الله الرحمن الرحيم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا

قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیدی.

رَضِيْتُ

خوښ یم

بِاللّٰهِ رَبًّا

چې الله مورب دی.

وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَّبِيًّا وَّرَسُوْلًا

او محمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلوٰة والسلام علىٰ نبيه الامي الامين

يرفع الله الذين آمنوا منكم والذين اوتوا العلم درجات ۝

ترجمه : خداى ج الوړى دايمان لرونكو د رجې له تاسونه اوله هغوكسانو نه چې پوهه لې ورپه برخه كړيده .

دآيه كريمې څخه استنباط كيږي چې هيڅ دول حسنه عمل څرګند اوبا ارزښته كيفيات ترپوهې وجود نلري .

داسلام په مقدس دين كې دپوهې اوعلم اهميت تردې اندازې لوړ دى چې آسماني وحې د « اقراء باسم ربك الذى خلق » په مبارك آيت شروع شوې ده

نوپدې اساس د وحې پالنې موضوع او د اسلامي تفكر روزنه ، اقتصاد ، سياست ، عبادات ، اخلاقيات ، بشري حقوق د قرآني ښوونې اوروزنې په ترڅ كې داسې وجيبه ده چې دټولو وجايبولو سايلو په درشل اوترڅ كې ترټولونه لوړې قطار كې موقعيت لري .

مونږ د وحدانيت دلاسې لاړ وهونكې د هجرت په ديرو نامړو اوسختو شرايطو كې